**مطبوعاتي اعلامیه**

**د هند تروریست رژیم یوازې د یوه ځواکمن زمري له قدرته ډارېږي، نه د یوې ډرانې پیشو له زاریو څخه!**



**(ترجمه)**

د ۲۰۱۸ م کال د اکتوبر پر ۲۱مه په کشمیر کې د هند د اشغالګرو ځواکونو په لاس د مخلصو مسلمانانو د وینو تویولو په ځواب کې عمران د اکتوبر پر ۲۲مه په یو ټویټ کې ولیکل: «په کشمیر کې د هند د امنیتي ځواکونو په وسیله د بې ګناه کسانو وژل په سختو ټکو غندم. اوس هغه وخت رارسیږدلی چې هند د خبرو اترو له لارې د کشمیر د شخړې د حل لپاره د امنیت شورا د ترونونو او د کشمیر د خلکود غوښتنو پر بنسټ اقدام وکړي.» د عمران- بجوا رژیم د یو هندو دښمن د سپکاوي پر وړاندې خپله پښه د مشرف او نواز د رژیمو پر ځای ایښې ده؛ په داسې حال کې چې د امریکا- هند ایتلاف له کومې ستونزې پرته د پاکستان پر مسلمانانو د هندوانو د واکمنېدو لپاره فعال دی. دغه رژیم د لمدې پیشو غوندې مسلمانان له جدي ګواښونو سره مخ کوي.

د هندو د قدرت ماهیت دا دی چې پر نورو د عدالت وړتیا نه لري، کمزورو ته سپکاوی کوي او یوازې په زور تسلیمېږي. همدا حقیقت و چې د هند د نیمي وچې خلکو د اسلام د مشرانو په منلو سره پر هند خپله واکمني ټینګه کړه، چې د پېړیو لپاره یې امنیت او ارامي راوستله. همدا حقیقت و چې زموږ نیکونو پر هغې خاورې د واکمنۍ لپاره چې د هندو ولکه هلته نه وي، ډېرې سربښندنې ورکړې. د هند د نیمې وچې له بېلتون وروسته د هندوستان د قدرت خاوندانو د مسلمانانو له ځورولو، هغه که په جګړه کې وي او که پر مسلمانانو د واکمنۍ او د کشمیر، ګجرات او ایودیا د اشغال په اړه وي، دریغ نه دی کړی.

اې د پاکستان وسلوالو ځواکونو! د عمران ـ بجوا د رژیم د ورانۍ د مخنیوي لپاره د نبوت پر تګلاره د خلافت د بیا تاسیس لپاره واک ستاسو په لاس کې دی. اوس هغه وخت دی چې تاسو به د یو ځواکمن زمري غوندې ګامونه واخلئ او د شاتګ لپاره دښمن مجبوریت به ووینئ. دا یوازې راشده خلافت دی، د ملګرو ملتونو سازمان په نامه استعماري ابزار او د کشمیر په اړه مسخره مصوبې یې په شپږم څپرکي کې ردوي. دا یوازې راشده خلافت دی چې هندي ډیپلوماټان وباسي او له هند سره جنګي حالت اعلانوي. دا یوازې خلافت دی چې د امریکا غوښتنې ردوي او هغه ځواک وسله‌وال کوي چې په کشمیر کې فعال دی. دا یوازې خلافت دی چې د پاکستان په لودیځ سرحد کې له ناکامې جګړې څخه ستاسو د ملاتړ لپاره د امریکا غوښتنې ردوي او پر ځای یې تاسو او زموږ اټومي وسایل د ختیځ مرز په لور خوځوي، ترڅو هندوان له بدبختیو څخه لاس اخیستو ته مجبور کړي. دا یوازې خلافت دی چې د عادي

کولو هغه طرحه ردوي، چې پاکستان د هند تابع کوي او په ټول توان به یو ځل بیا د هند په نیمه وچه کې د اسلام بیرته راتګ لپاره کار وکړي. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿فَلَا تَهِنُوا وَتَدْعُوا إِلَى السَّلْمِ وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ وَاللَّهُ مَعَكُمْ وَلَن يَتِرَكُمْ أَعْمَالَكُمْ﴾** [محمد: ۳۵]

***ژباړه:*** *نو هېڅکله مه سستېږئ او دښمنان (ذلت راوړونکې) سولې ته مه رابولئ، تاسو غوره او لوړ یاست او الله سبحانه وتعالی له تاسو سره دی او د اعمالو (له ثوابه) مو څه نه کموي.*

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**د صدور شمېره: 07/1440**

**۱۴۴۰ هـ.ق، د صفر ۱۳مه**

**۲۰۱۸ م، د اکتوبر ۲۲مه**